د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

# لوګر Logar

میاشتنۍ خپرونه

د تا سیس کال: ۱۳۸۳ هـ.ل

دلوګر اطلاعاتواوفرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

سه شنبه د۱۳۹۹ کال د تلې میاشتي لومړی، د ۲۰۲۰ عیسوي کال د سپتمبر دوه ویشتمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۱۱۵) لومړی کال، پنځمه ګڼه

**طبراني او ابن النجار له حضرت علي (کرم الله وجهه) نه روایت کوي، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ویلي دي: تاسوخپلو اولادونو ته درې خویونه ور وښیئ! ستاسو دنبي مینه، دهغه دکورنۍ مینه اودقرانکرم تلاوت.**

**ځکه دقران حافظان به دالله (ج) دعرش په هغه سیوری کې له انبیاو او نیکو خلکوسره وي، چې په هغه ورځ بل ځای سیوری نه پیداکیږي.**

## د طبیعي پیښوپر وړاندې د مبارزې په برخه کې د دولت وزیر لوګر ته سفر وکړ





د وږي ۸ مه: د پېښو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د دولت وزیر بهاءالدین جیلاني د سفر په لومړیو کې د لوګر والي محمد اجمل شاه پور سربېره، د ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي، د ولایت مرستیالې رابعې ستانکزۍ، په ولسي جرګې کې د لوګر د خلکو استازو انجنیر محمد آصف نبي زي، ډاکټر محمد خالد مومند، هما احمدي، ولایتي شورا غړي سید قریب الله سادات، امنیه قوماندان مل پاسوال احمد فیصل الله داد، ملي امنیت رییس ډګروال عبدالعظیم، د کوماندو قوماندان او د اړوندو ادارو مسوولینو سره ولیدل.

په پیل کې لوګر والي محمد اجمل شاه پور یاد پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل؛ د سروې ټیمونو د لومړنیو معلوماتو له مخې په مرکز او ولسوالیو کې ۷۰۰ کورونه سل سلنه له منځه تللي، څه باندې (۱۰۰۰) نور کورونه هم قسماً تخریب شوي او دغه ډول ډیری کرنیزې ځمکې ویجاړې شویدي. ده زیاته کړه ددغو سیلابونو له امله یو تن هېوادوال مو په شهادت رسیدلی او درې تنه ټپیان شوي دي.

دغه راز په ولسي جرګه کې د لوګر استازو ډاکټر محمد خالد مومند، هما احمدي او د ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي په وار سره د سیلابونو پر تراو د معلوماتو د وړاندې کولو ترڅنګ وویل؛ د لوګر ډېری اوسیدونکي بزګران دي او له سختو اقتصادي ستونزو سره مخامخ دي، چې ورستیو سیلابونو دوی نور هم وځپل او ډیرې ستونزې یې دوی ته جوړې کړې دي، دوی زیاته کړه؛ د خلکو کرنېزې ځمکې زیاتې ویجاړې شوي دي.

د طبیعي پیښو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د دولت وزیر غلام بهاء الدین جیلاني د جلالتمآب جمهور رییس د پیغام د وړاندې کولو ترڅنګ وویل؛دا مهال په عاجله توګه د لوګر ۵۰۰۰ متضررو کورنیو ته د خوراکي او غیر خوراکي موادو د ویش لړۍ پیلېږي، چې دغه مواد به له پلازمېنې لوګر ته راولېږدول شي.

جیلاني زیاته کړه؛ لوګر ته د نورو مرستو تر رسیدو نن اته نیم میلیونه افغانۍ نقدي مرسته هم راوړل شوې، چې په لوګر کې د پېښو پر وړاندې د مبارزې ولایتي کمیټې په فیصله به هرې کورنۍ ته د خوراکي او غیر خوراکي توکو تر څنګ ۱۵۰۰۰ زره افغانۍ نقدي مرسته هم وویشل شي.

د طبیعي پیښو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د دولت وزیرغلام بهاء الدین جیلاني د لوګر له ملکي او نظامي رهبرۍ څخه مننه وکړه، چې د سیلاب ځپلو کورنیو سره یې پر وخت مرستې کړې دي.

جیلانې ډاډ څرګند کړ، چې دوی خپلې غوښتنې له نړیوالې ټولنې سره هم شریکې کړې؛ ژر ده، چې د هغوی لخوا هم د مرستو لړۍ پیل شي.

ده د لوګر اوسیدونکو ته ډاډ ورکړ، چې هیڅ راز مرستې به له دوی څخه ونه سپموي.

لوګر والي محمد اجمل شاه پور وړاندې د طبیعي پیښو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د دولت وزارت څخه مننه وکړه، چې د خلکو د ستونزو د حل په پار یې یو لړ اړین ګامونه اوچت کړي دي.

شاه پور غوښتنه وکړه، چې د لوګر ولایت اوسیدونکو ته ډیری مالي زیانونه اوښتي او کرنیزې ځمکې یې چې د یو کال خواریو ثمره یې وه، له منځه تللي، چې باید ژر تر ژره له مرکز څخه دوی ته مرستې راورسیږي.

لوګر والي د خلکو د ستونزو د حل په پار یو لړ اړین وړاندیزونه هم وکړل او غوښتنه یې وکړه، چې باید په دې برخه کې جدم پام وشي.

د یادونې وړ ده، چې په همدې ورځ ۵۰۰ سیلاب ځپلو کورنیو باندې د لوګر والي محمد اجمل شاه پور، د طبیعي پیښو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د دولت وزیر غلام بهاء الدین جیلاني او یو شمېر نورو مسوولینو له لوري د خوراکي او غیر خوراکي توکو تر څنګ هرې کورنۍ ته ۱۵۰۰۰ افغانۍ نقدي مرستو لړۍ هم پیل شوه.

**د ولایت مقام رسنیز مرکز**

## د خبریالانو د خوندیتوب کمیټې میاشتنۍ ناسته تر سره شوه



دوږي ۲۵ مه: د لوګر ولایت په مقام کې د خبریالانو د خوندیتوب کمیټې په میاشتنۍ ناسته کې ددې ولایت د مرستیالې آغلې رابعې ستانکزۍ سربیره د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل، ولایت مقام ویاند دیدار احمد لونګ، په لوګر کې د خپلواکو ژورنالستانو د ټولنې مشر نورالله ستانکزي، د لوګر د خبریالانو د خوندیتوب کمیټې مشر خان ولي احمدزي، د اطلاعاتو آمر امین الله صفا، د غړیزو رسنیو غړو او دولتي ویاندویانو ګډون کړي ؤ.

غونډه د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل په خبرو پیل شوه او ورپسې له اجنډا سره سم په لوګر کې د آزادو خبریالانو د ټولنې مشر نورالله ستانکزي خبرې وکړې او یو شمیر ستونزې یې شریکې کړې.

ورپسې په لوګر کې د خبریالانو د خوندیتوب کمیټې مشر خان ولي احمدزي هم یو شمیر اندیښنې او مشکلات وړاندې کړل.

د لوګر ولایت مرستیالې آغلې رابعې ستانکزۍ د خبریالانو ټولو ستونزو ته د رسیدګي په تړاو دوی ته ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه، چې رسنۍ ددې ټولنې خوله او غږ دی او دا یې دنده ده، چې رسنوالو او رسنیو ته به پاملرنه کوي.

## پیرامون صلح و مذاکرات بین الافغانی نشست یی میان جوانان راه اندازی گردید



به ابتکار مرکز آموزشی لنکن ریاست اطلاعات و فرهنگ لوگر طی نشست یی میان جوانان در مورد صلح و آغاز مذاکرات بین الافغانی صحبت های همه جانبه صورت گرفت و شاملین برنامه از طرف های مذاکره کننده خواستند که صادقانه برای تامین آرزویی دیرینه مردم که صلح میباشد، گام بردارند. **بقیه درصفحه ۲**

سرلیکنه ...

## سوله الهي امر او د ولس غوښتنه ده!

**دسولې نړیواله ورځ هر کال دنړۍ په ګوټ ګوټ او همدارنګه زموږ په ګران هېواد افغانستان کې د وږي د میاشتې په ۳۱ مه نېټه لمانځل کیږي .افغان ولس دغې پرتمینې ورځې لمانځلو او راتګ ته لیوال په دې دي، چې دوی څه دپاسه په څلور لسیزو جګړو کې ژوند په ناخوالو او دربدرۍ تېر کړیدي او لاهم دوام ورکوي .**

**افغانستان کې دسولې ورځ دشهیدانو داونۍ سره جوخت لمانځل کیږي. افغانانو د تېرو جګړو په پایله کې زیاتې قربانۍ ورکړي له دوه میلیونو څخه ډیری شهیدان او معیوب شوي ، نو ددغې اونۍ د درناوي لپاره د شهیدانو ارواوو ته ولس دعاګانې او دهغوی پاتې کورنیو ته د ډاډګیرنې او تسلیت پیغام لیږي .**

**افغان ولس د شهیدانو او غازیانو د کارنامو اوسرښندنو یاد تازه کول؛ نوي نسل ته دا پېغام ورکوي، چې افغانان نه یوازې خپل سرونه له هېواده قربان کړي، بلکې دخاورې په ساتنه او خلاصون کې له ویاړ نه ډک تاریخ هم پریښې دی، چې نن ورځ باید دخپلو نیکونو او پلرونو کارناموته درناوی ولري او روان سیاسي کړکیچ ته دپای ټکی کېږدي .**

**په هېواد کې د تلپاتې او باعزتې سولې لپاره ټول ولس لېواله، دي، چې د سولې خوند وڅکي، ځکه دوی له جګړو کر که پیدا کړې، نه غواړي، چې نور دې افغانستان په اور کې لولپه شي . له ډیرې مودې راهیسې د سولې خبرې پیل شوي، خو داچې دسولې پرمخ پراته خنډونه او ځنډ ولې رامنځته کېدل؟ دا هغه پوښتنې دي، چې د وخت پر اساس به ورته ځواب وویل شي او په هر حال؛ دې لپاره اوږد بحث ته اړتیا ده .**

**دتېرو سوله ییز وکاروانونو، مدني حرکتونو او تر ولسي وګړو، چې د سولې راتلوپاره هڅې کړې او له جګړو ښکېلو اړخونو یې د رواني جګړې دریدنه یې کړې، اوسمهال ټول ولس هم د دواړو خواوو (حکومت او وسلوالو جنګیالیو) نه غوښتي، چې په چټکۍ توګه دې بین الافغاني خبرې پیل او اوږدمهاله اوربند دې وکړي . خو له نېکمرغه په دوحه کې بین الافغاني خبرې پیل شوي، موږ هیله من یو، چې مخامخ خبرې به هېوادوالو ته هیله بښوونکي زیری ورکړي .**

**دسولې غږ په میرانې پورته کول به ان شاالله ډیر ژر وسلوالې ډلې او حکومت دې ته رامات کړي، چې د ولس غوښتنې ومني او د هغوی هیلې راژوندۍ کړي. که چېرته دهېواد له هر کونجه دسولې غږ پورته شي، نو ډیر ژر به په هېواد کې دتلپاتې سوله لمن مخ پر غوړېدو وي .**

**سوله الهي امر، د افغانانو تل پاتې آرمان او دغه راز زموږ ټولنیزه اړتیا ده، نو څنګه چې دغه ځانګړنې لري باید په جګړې ښکیلې ډلې دې هم الهي امر ته غاړه کیږدي او هم د ولس غوښتنو ته درناوی ولري. ځکه دغه جګړه په هېوادوالو تېل شوې او دهېواد دخاورې دښمنان غواړي، چې ددغې جګړې اور ته نور هم پوکی ووهي.**

**دجګړو پرمهال افغان ولس له بیوزلۍ، ناقانونه کډوالۍ او نورو کړاونو سره مخ شوي، ترکومه بریده چې زموږ هیوادوال د یو ډاډمن افغانستان په هیله دي، خو دغه آرمان یې لا پوره شوې نه دی او اوس هم په خپل هیواد کې سره کړیږي .**

**اصلي خبره داده، چې هیڅ لوري ددې مظلوم ولس له کړاونو ډک ژوند ته د پای ټکی کینښود او د سولې راتلو زیری یې پرې ونه لوریده. خو دا چې خپله افغانان په خپلو کې سره روغه جوړه ونه کړي، هېڅکله بهرني هېوادونه دافغانستان سیاسی معضله نشي حلولای، بلکې یوازې د دوی ملاتړ او مرستې ته اړتیا لیدل کیږي، چې په دغه ملي پروسه (سوله) کې له افغان ولس سره پاتې شي .**

**د ولس یوازینۍ غوښتنه له دولت او وسلوالو ډلو نه داده، چې دخلکو اوسنۍ هیلې مړاوې نه کړي، ژر تر ژره دې د رښتیني سولې راوستو په لټه کې شي، چې نور افغان ولس د آرامۍ ساه واخلي .**

**دخلکو په وینا،که وسلوالې ډلې غواړي، چې هېواد کې دې سوله وشي او دوی درګرده خپلو جګړو ته زور ورکوي، دا په حقیقت کې پر ولس ملنډې وهل دي، خو که رښتیا دوی دسولې لپاره ژمن پاتې کیږي، نو لومړۍ ځل دې اوږدمهاله اوربند وکړي او بیا دې په خپلو کې سره روغه، جوړه او دبین الافغاني خبرو پایله دې هېوادوالو ته مثبتې او دسولې راتلو زیری پر افغان ولس ولوروي، چې افغان ولس دسولې په تمه دي، نو دغه ستر آرمان ته چې سوله ده، ژر تر ژره ورسیږي . تل دوي سوله او مړ دې وي جنګ!**

**تربیا دخدای پامان**

**مدیر**

**حفظ میراث های فرهنگی، حفظ افتخارات ملی ما است!**